Pashto

# عامه ښوونځي او په ښوونځي کې ستاسو د ماشوم د نومليکنې ځرنګوالی

د نوې راغلي کورنۍ لپاره لارښود

**Nova Scotia ژمن دی تر څو داډ ترلاسه کړي چې ټول ماشومان په لوړ کیفیت سره زده کړې ترلاسه کوي.**

د ښوونځي وړاندې دورې یا د لومړني ټولګي څخه تر 12 ټولګي پورې زده کوونکي کولای شي له لاندې درې لارو څخه د یوې په واسطه په ښوونځي کې ګډون وکړي:

- دوی کولای شي یوه وړیا دولتي ښوونځي ته ولاړ شي.
- دوی کولای شي یو خصوصي ښوونځي ته چې لګښت لري ولاړ شي.
- دوی کولای شي په کور کې زده کړې وکړي.

د دې لارښود معلومات تاسو ته د عامه ښوونځیو د کار د ځرنګوالي او دا چې څه ډول کولای شي خپل ماشوم په ښوونځي کې شامل کړئ، لا زیات معلومات درکوي.

## عمومي معلومات

د Nova Scotia د ښوونې او روزنې ریاست او د ماشومتوب لومړنۍ دورې د پرمختګ برخه (EECD) په عامه ښوونځي کې له ښوونځي وړاندې دورې یا لومړني ټولګي
څخه تر 12 ټولګي پورې د زده کوونکو د زده کړو مسوولیت لري.

**EECD له ګڼ شمېر نورو همکارانو او ادارو سره د پراختیا په موخه کار کوي:**

- د لومړنیو زده کړو د درسي نصاب چوکاټ (نوي زېږېدلي ماشومان د لومړني ښوونځي تر پیل پورې)
- د عامه ښوونځي درسي نصاب (له لومړني ټولګي څخه تر 12 پورې)
- د زده کړو پالیسی، پروګرامونه او خدمتونه
- سرچینې او نور هغه مواد چې له یوه ماشوم سره مرسته کوي چې زده کړې وکړي او بریالی شي

**هغه شریکان او اداري چې EECD ورسره کار کوي، عبارت دي له:**

- د زده کړو لپاره سیمه ییز مرکزونه (RCEs) چې په انګلیسي ژبه د عامه ښوونځي درسي موضوعات وړاندي کوي، چې په هغې کې فرانسوي د دویمې ژبې په توګه پروګرامونه هم شامل دي
- Conseil scolaire acadien provincial (CSAP) په عامه ښوونځي کې فرانسوي د لومړنی ژبې په توګه موضوعات وړاندي کوي
- د Nova Scotia د ماشومتوب د لومړنی دوري د پرمختګ د مداخلي خدمتونه، چې له زیږون څخه په ښوونځي کې تر شمولیت پورې د ماشوم لرونکو کورنیو لپاره خدمتونه وړاندې کوي، چې د خپل پرمختګ په برخه کې اضافي مرستې ته اړتیا لري.
- د ماشوم د پاملرني جواز لرونکي مرکزونه
- د ټولنې نور همکاران

## په عامه ښوونځیو کې کارول کېدونکې ژبې

په Nova Scotia کې عامه ښوونځي د RCE لخوا د وړاندې کېدونکو پروګرامونو پر بنسټ انګلیسي د لومړنی ژبې په توګه او د CSAP لخوا د وړاندې کېدونکو پروګرامونو پر بنسټ فرانسوي د لومړنی ژبې په توګه تدریس ترسره کېږي.

### د RCE په ښوونځیو کې

- زده کوونکي په انګلیسي باندې زده کړې کوي
- زده کوونکي له 4 څخه تر 9 ټولګي پورې اصلي فرانسوي زده کوي
- فرانسوي د دویمې ژبې په توګه پروګرامونه لکه په دویمه ژبه د یوې موضوع د تشریح کولو پروګرام په یو شمېر ښوونځیو کې د لاسرسي وړ دی.
- ښوونځی به له کورنی سره په انګلیسي ژبه اړیکه ټینګه کړي

### د CSAP په ښوونځیو کې

- زده کوونکي په فرانسوي زده کړې کوي
- زده کوونکي له 4 ټولګي څخه انګلیسي ژبه زده کوي
- ښوونځی به له کورنی سره په فرانسوي ژبه اړیکه ټینګه کړي

CSAP د ولایت په سراسر کې ښوونځي لري. د CSAP ویب پاڼه د پروګرام جوړولو او په شرایطو د برابرېدو د اړینو اړتیاوو په اړه معلومات لري.


## ستاسو ګاونډ، ستاسو ښوونځی

هغه ښوونځی چې ستاسو ماشوم ورځي په دې پورې اړه لري چې تاسو چېرته ژوند کوئ. په یو شمېر مواردو کې، تاسو کولای شئ خپل ماشوم په یوه داسي ښوونځي شامل کړئ چې ستاسو له ګاونډ څخه بهر وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره له خپل سیمه ییز RCE یا CSAP سره اړیکه ونیسئ.

Nova Scotia د 7 په تعداد کې RCE او 1 CSAP لري. د خپل پروګرام د موندلو لپاره لاندې نقشه وګورئ. دا نقشه په ګوته کوي چې تاسو څه ډول کولای شئ د CSAP هغه ښوونځي ومومئ چې د آیالت په سراسر کې موقعیت لري.

## د Nova Scotia د عامه ښوونځي سیستم

Nova Scotia د زده کړو لپاره د انګلیسي ژبې اوه سیمه ییز مرکزونه (RCEs) او یو فرانسوي
د لومړنی ژبې په توګه د ښوونځي د بورډ پروګرام (CSAP) لري..




# د ښوونځي مالي ملاتړ ترسره کېدونکی یا تایید شوی فعالیت

### له ښوونځي وړاندې دوره

- له ښوونځي وړاندې دوره یو وړیا، رضاکارانه او د لومړنیو زده کړو پروګرام دی.
- په Nova Scotia کې هر هغه ماشوم چې په ښوونځي کې له شمولیت یو کال وړاندې د ډسمبر تر 31 پورې 4 کلن کېږي، کولای شي له ښوونځي وړاندې دورې ته ولاړ شي.
- له ښوونځي وړاندې دوره ټولشموله ده. د هر ډول وړتیاوو لرونکي ماشومان ګډون کولای شي.
- د ماشومتوب د لومړنی ښوونکي (ECEs) به ستاسو ماشوم لوبه په داسې ډول پرمخ بوځي چې ستاسو د ماشوم له ودې سره مرسته وکړي.
- له ښوونځي وړاندې دوره مرسته کوي چې ماشومان د عامه ښوونځي لپاره چمتو شي. ستاسو ماشوم اړ نه دی چې په د لومړني ښوونځي کې د شمولیت لپاره
  له ښوونځي وړاندې دوره کې ګډون وکړي. دا ستاسو انتخاب دی چې خپل ماشوم د ښوونځي وړاندې دورې ته واستوئ او که نه

### له لومړني ټولګي څخه تر 12 پورې

- ستاسو ماشوم باید د لومړني ښوونځي د پیل کولو لپاره د ډسمبر تر 31 نېټې پورې لږ تر لږه پنځه کلن وي.
- د 5 او 16 کلونو ترمنځ عمر لرونکي ماشومان باید ښوونځي ته ولاړ شي. کیدای شي ښوونځی عامه، خصوصي یا په کور کې وي.

- د Nova Scotian ټول عامه ښوونځي ټول شموله دي او ژمن دي چې د کلتوري او ژبني اړخه يو ځواب ويونکی چاپيريال تضمين کړي او د هر زده کوونکي له هوساينې او برياليتوب څخه ملاتړ کوي.
- د Nova Scotia ښوونځي په لاندې ډول تنظيم شوي دي، په همدې حال کې، کيدای شي جزئي بدلونونه شته وي:
  - لومړني ښوونځي (له لومړني ښوونځي وړاندې تر 6 ټولګي پورې)
  - متوسطه ښوونځي (له 7 څخه تر 9 ټولګيو پورې)
  - عالي ليسې (له 10 څخه تر 12 ټولګيو پورې)
- کيدای شي يو شمېر ښوونځي زده کوونکي له بېلابېلو ټولګيو څخه په يوه ټولګي کې يو ځای کړي.

## په ښوونځي کې نوملیکنه

### تاسو بايد خپل ماشوم څه وخت او چېرته په ښوونځي کې شامل کړئ يا نومليکنه ورته وکړئ

- تاسو بايد د ښوونځي له پيل کېدو وړاندې خپل ماشوم ته نومليکنه وکړئ.
- تاسو کولای شئ خپل ماشوم ته سيمه ييز ښوونځي ته په حضوري ډول مراجعه کولو، د ټيليفون يا برښناليک له لارې نومليکنه وکړئ. کيدای شي ستاسو سيمه ييز ښوونځی په خپله ويب پاڼه کې د نومليکنې فورمه ولري. تاسو کولای شئ ډکه يې کړئ او ښوونځی به له تاسو سره اړيکه ونيسي تر څو پروسه بشپړه کړئ. تاسو کولای شئ له نومليکنې سره سم پوښتنه وکړئ چې ستاسو د ټولنې په ښوونځي کې فرانسوي د دويمې ژبې په توګه کوم پروګرامونه د لاسرسي وړ دي.
- که چېرې ستاسو ماشوم معلول وي، طبي اړتيا ولري يا اضافي مرستې ته اړتيا ولري، تاسو بايد د نومليکنې پر وخت ښوونځي ته خبر ورکړئ.
- د نومليکنې په برخه کې د لا زياتې مرستې لپاره، د RCE/CSAP، د YMCA ښوونځي د مېشتېدنې برخې يا YREACH يا د کېوالی د فرانکوفون سره اړيکه ونيسئ.

### هغه اسناد چې تاسو يې بايد وړاندې کړئ

تاسو به د خپل ماشوم لپاره د نومليکنې ترسره کولو په موخه ګڼ شمېر اسنادو ته اړتيا ولرئ. تاسو بايد دا اسناد په الکترونيکي بڼه، لکه انځور، پي ډي اف يا ورډ سند په بڼه کې ولرئ.

- د خپل ماشوم د عمر سند لکه، د زيږېدو تصديق پاڼه يا پاسپورټ
- ستاسي د پتې اثباتيه سند، چې کولای شئ د بانک د بيانيې، ټيليفون، برېښنا بل يا د اپارتمان د کرايې تړون له کاپي سره، چې ستاسي نوم او پته پکې وي، وړاندې کړئ. (يادونه: د موټر چلولو جواز د پتې د ثبوت لپاره معتبر سند نه دی.)
- د خپل ماشوم د کېوالی حالت د اثبات لپاره، له لاندې اسنادو څخه يو وړاندې کړئ: دايمي استوګنې تاييد، دايمي استوګنې کارت، کاناډايي پاسپورټ، د کار اجازه، د زده‌کړې اجازه، د موقتي استوګنې اجازه يا له کېوال څخه د ملاتړ د ادعا سند
- که امکان ولري، د خپل ماشوم د پخوانيو زده‌کړې اسناد، مخکيني زده کړيېز سوابق يا د نمرو کارتونه، چې انګليسي يا فرانسوي ته ژباړل شوي وي، وړاندې کړئ. (يادونه: هغه ټولګی چې ستاسو ماشوم Nova Scotia ته تر راتګ مخکې لوستی وي، ممکن په Nova Scotia کې ورته نه وي.)

**نور هغه معلومات چې باید وړاندې یې کړئ**

- ښوونځي ته خپل د کور یا د ټیلیفون شمېرې او پر دې سربېره د خپل یوه ملګري، د کورنۍ د غړي یا ګاونډي نوم او د ټیلیفون شمېرې وکړئ. ښوونځی به د بیړني حالت په صورت کې ستاسو سره د اړیکې نیولو لپاره له دې معلوماتو څخه کار واخلي. دا معلومات له خپل ښوونځي سره اپډیټ وساتئ. که چېرې د ټیلیفون یوه شمېره بدله شي، نو ښوونځي ته ووایئ.
- له ښوونځي سره اړیکې نیولو ته د اړتیا په صورت کې، د خپل ماشوم د ښوونځي د ټیلیفون شمېره، د ښوونکي، مدیر او د مدیر د مرستیال نومونه یادښت کړئ.
- د ښوونځي ویب پاڼه وګورئ تر څو ومومئ چې آیا دوی لاربنود کتاب لري او که نه. دا به تاسو ته هر هغه پالیسی او تګلارې په واک کې درکړي چې تاسو باید پرې پوه شئ.
- که چېرې ستاسو ماشوم یو حساسیت، طبي شرایط یا داسې درمل لري چې باید د ښوونځي د ورځې په لړ کې یې وکاروي، نو ښوونځي ته ووایئ. ښوونځی اړتیا لري چې په دې موارد و باندې شي تر څو وکولای شي هغه بیړني حالت ته ځواب ورکړي چې ستاسو ماشوم پکې ښکیل وي.

**ستاسو د ماشوم د ژبې اوسنې مهارتونه**

- کیدای شي ستاسو ښوونځی ستاسو له ماشوم څخه وغواړي چې د ژبې ارزونه ترسره کړي تر حو مشخص شي چې هغه په انګلیسي یا فرانسوي باندې څومره په ښه ډول اوریدلی شي، خبرې کولی شي، لوستل او لیکل کولای شي. که چېرې اړتیا وي، دوی به د RCE په ښوونځي کې انګلیسي د اضافي ژبې په توګه ملاتړ (EAL) ترلاسه کړي او په CSAP ښوونځي کې فرانسوي د اضافي ژبې (FAL) په توګه ملاتړ ترلاسه کړي.
- د EAL/FAL ښوونکي له زده کوونکو او ښوونکو سره په ښوونځیو کې مرسته کوي. له خپل ښوونځي څخه پوښتنه وکړئ چې دوی څه ډول د EAL یا د FAL ملاتړ وړاندې کوي.

## د اړیکې معلومات

د لا زیاتو معلوماتو لپاره د زده کړو له سیمه ییز مرکز (RCE) یا Conseil scolaire acadien provincial (CSAP) سره اړیکه ونیسئ.

- **د Annapolis Valley د زده کړو سیمه ییز مرکز** (AVRCE)
- **د Cape Breton-Victoria د زده کړو سیمه ییز مرکز** (CBVRCE)
- **د Chignecto-Central د زده کړو سیمه ییز مرکز** (CCRCE)
- **Conseil scolaire acadien provincial** (CSAP)
- **د Halifax Regional د زده کړو سیمه ییز مرکز** (HRCE)
- **د South Shore د زده کړو سیمه ییز مرکز** (SSRCE)
- **د Strait د زده کړو سیمه ییز مرکز** (SRCE)
- **د Tri-County د زده کړو سیمه ییز مرکز** (TCRCE)
- **SchoolsPlus** یو شمېر خدمتونه او ملاتړ چمتو کوي او د Nova Scotia په هر ښوونځي کې د لاسرسي وړ دی

په خپله ټولنه کې د ملاتړ لپاره، اړیکه ونیسئ:

- **د YMCA ښوونځی د مېشتېدنې برخه** – د Halifax په سیمه ییزه ښاروالۍ کې د لاسرسي وړ ده (HRM)
- **YREACH** – د ولایت په کچه د لاسرسي وړ دی (له HRM بهر)
- **د کېدوالۍ فرانکوفون** – ستاسو د ټولنیزې میشتېدنې د کار کوونکي له لارې د لاسرسي وړ دی

20231130